مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۶/۰۵/۲۴

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(شپاړلسمه برخه)



(جنرال پروېز مشرف کونګ (بوم) ته ورته خېره)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۲)

### سندرغاړی، ډیلهمار، نڅاګر او ... جنرال، پروېز مشرف[1]

پروېز مشرف د انګرېزي هند، په ډهلي کې زیږېدلی دی، مور او پلار یې د هغه مهال د لوړو زده کړو خاوندان وو، د هغه پلار سید مشرف‌الدین ادعا کوله چې د پیغمبر (ع) له نسل څخه دی.[2] د مشرف دواړه نیکونه د انګرېز استعمار پر مهال د انګرېزانو په ادارو کې دندې لرلې، د هغه نیکه د انګرېزانو د مالیېټولولو مامور او د ده د مور پلار د انګرېزانو په محاکمو کې د قاضي دنده لرله.[3]

پروېز مشرف له پاکستان څخه ۴ کاله مشر دی، کله چې پاکستان رامنځ ته شو نو مشرف څلور کلن ؤ، د مشرف کورنۍ په ۱۹۴۷ز. کال کې د هند او پاکستان د جلا کېدو پر مهال له ډیلي څخه کراچۍ ته کډه وکړه.

---

[1]: د جنرال پروېز مشرف د سندرو ویلو، ډېلي وهلو، نڅا او نورو کړنو په هکله به د راتلونکو لیکنو په اوږدو کې مالومات وړاندې شي.
[2]: د پروېز مشرف د نسب او شخصیت په اړه به په راتلونکو لیکنو کې مالومات وړاندې شي.
[3]:https://books.google.com/books?id=lgJ03ubVAN0C&q=pervez+musharraf+mother+zarin&pg=PA1



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مشرف د کراچۍ د مسیحیانو په کاتولیک ښوونځي کې زده کړې وکړې او په لاهور کې مسیحي پوهنتون (فورمن) کې ومنل شو.**[4]

مشرف، په ۱۹۶۴ز. کال کې د پاکستان د پوځي اکاډمۍ PMA په توپچي څانګه کې زده‌کړې وکړې. د هغه لومړنۍ جګړه د کشمیر د دویمې جګړې پر مهال د (خمکاران) په سیمه کې وه چې نوموړی د توپچي د یو کنډک قوماندان ؤ. هغه د همدې جګړې پر مهال د لاهور او سیالکوټ په سیمو کې په جګړو کې برخه اخیستې وه.

د ۱۹۷۱ز. کال د هند او پاکستان جګړې پر مهال، مشرف د SSG د کماندو د یو کنډک قوماندان ؤ. د همدې کال د جګړې پر مهال تاکل شوې وه چې هغه ختیځ پاکستان [بنګال] ته د پوځ او سمندري ځواک په ګډون واستول شي خو د هند پوځ د جنوبي پاکستان پر لور د پرمختګ له امله دا لیږدونه لغوه شوه. جنرال مشرف د ۱۹۸۷ز. کال په سپتمبر کې په (بیلافوند لا) کې د یو برید مشري وکړه خو وروسته شاتګ ته اړ شو.[5]

جنرال مشرف د بې‌نظیر بوټو له سیاست څخه اغېزمن شوی ؤ چې په بېلابېلو برخو کې یې لاربښوونې ورته کولې، مشرف د هند په اړه د پوځ او سیاست په موضوعاتو کې د بې‌نظیر بوټو له دریځ سره نږدې‌والی درلود. له ۱۹۹۳تر ۱۹۹۵ز. کال پورې، جنرال مشرف څو ځله د بې‌نظیر بوټو د پلاوي د غړي په توګه امریکا ته سفرونه وکړل.[6]

سره له دې چې جنرال مشرف له اسلامپالو او ملایانو سره پراخ فکري او عملي واټن درلود خو «مولانا فضل‌الرحمن د هغه واسطه ؤ، مولانا، د مشرف د ترفیع لپاره بې‌نظیر بوټو ته سپارښتنې کولې چې وروسته بې‌نظیر بوټو د هغه د ترفیع اسناد لاسلیک کړل او پایله کې مشرف د بې‌نظیر بوټو په مهمه پوځي کړۍ کې ورګډ کړای شو.

د مشرف پلار او نیکه د یهودپلوه انګرېز استعمار نوکران پاتې شوي وو او مشرف له آره په ترکیه، پاکستان او انګلستان کې تر ډېره د یهودپلوه عیسوي تعلیمي بنسټونو کې زده‌کړې کړې وې چې له امله یې له اسراییلي صهیونستانو، په ځانګړي توګه، له اسراییلي استخباراتو (موساد) سره اړیکې لرلې چې طبعاً د موساد اجنټ بلل کیږي، د همدغو اړیکو له امله **«جنرال مشرف په ۱۹۹۳ز. کال کې په شخصي توګه وکړای شول چې له بې‌نظیر بوټو سره مرسته وکړي او په واشنګټن ډي سي کې د پاکستان په سفارت کې د موساد له چارواکو او د اسراییلو د لومړي وزیر اسحاق رابین له ځانګړي استازي سره پټه لیدنه وکړي.»**[7]

د هغه وروستۍ پوځي دنده په ۱۹۹۵ز. کال کې د کشمیر ایالت د منګلا په سیمه کې وه، کله چې بې‌نظیر بوټو هغه ته د (ډګر جنرالۍ) رتبه ورکړه.

---

[4]: پرویز مشرف: در خط آتش: فارسي ژباړن: سید هارون یونسي. ۵۶مخ

[5]: https://books.google.com/books?id=XnzRttnqExUC&pg=PA28

[6]https://en.wikipedia.org/wiki/Charlie_Wilson%27s_War:_The_Extraordinary_Story_of_the_Largest_Covert_Operation_in_History

[7] : https://books.google.fr/books?id=BYBFUTUSX-EC&lpg=PP1&pg=PP5#v=onepage&q&f=false



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

مشرف د خپلو غوړمالیو او چالاکیو په ترڅ کې وکړای شول بې‌نظیر بوټو دې ته راضي کړي چې نوموړي ته د ډګرجنرالۍ رتبه ورکړي چې له دې وروسته جنرال مشرف وتوانیده چې «د نواز شریف د دویمې دورې، د لومړي وزارت پر مهال، **په ۱۹۹۸ز. کال کې د شهبازشریف او نثارعلي خان په سپارښتنه د پوځ د ستردرستیز په توګه وټاکل شي، نواز شریف هغه ته د ستر جنرالۍ رتبه هم ورکړه.**[8]

## د کارګیل جګړه

وروسته له هغې چې جنرال مشرف د پاکستان ستردرستیز وټاکل شو، هغه هڅه وکړه، داسې یو کار وکړي چې په کولو یې په پراخه کچه یاد او مطرح شي، هغه وو چې مشرف د کشمیر د (کارګیل) په غرنۍ سیمه کې له هند سره د جګړې طرحه جوړه کړه. مشرف له ډېر پخوا څخه په نوموړې غرنۍ سیمه کې د جګړې په ارمان کې ؤ، جنرال مشرف چې په بېلابېلو مرحلو کې یې د کشمیر سیمې پوځي مسئولیت درلود، «په ۱۹۸۹-۱۹۸۸ کلونو کې چې هغه مهال برید جنرال ؤ، لومړۍ وزیرې بې‌نظیر بوټو ته په کارګیل کې د پاکستان د مداخلې پلان وړاندې کړ خو هغې د مشرف دا طرحه ونه منله.»

د پاکستان پوځ د سیاچین له نښتې (۱۹۸۴ز.) وروسته د کارګیل د جګړې طرحه تر غور لاندې نیولې وه خو دا طرحه څو ځله د لوړپوړو ملکي او پوځي چارواکو له خوا ونه منل شوه.[9] جنرال مشرف چې په هماغه د ناپوهۍ پر خره سپور ؤ، ټینګار یې کاوه چې د پوځ په مرسته دې ځايي کشمیریان جګړه پیل کړي.

**هغه وو چې جنرال مشرف د ۱۹۹۹ز. کال په مارچ کې د کارګیل سیمې ته [د ځايي کشمیري مجاهدینو په جامه کې] په پټه توګه د خپلو ځواکونو د ننوتلو امر وکړ.** کله چې هند د پاکستان له مداخلې خبر شو نو پر وړاندې یې ډېر سخت غبرګون څرګند کړ، نږدې ؤ چې د کارګیل نښته په یوې لویې جګړې بدله شي.

جنرال مشرف په خپل کتاب:**(د اور په لیکه)** کې د کارګیل جګړې او د کشمیر د آزادولو په اړه خپلې ډېرې ویشتلې دي، هغه وايي چې دا د لومړي وزیر نواز شریف بې‌کفایتي وه چې جګړه یې ونه ګټله:**«موږ کولی شول د کشمیر دره آزاده کړو** خو موږ د بین‌المللي پولې ها خوا یرغلیز پلان نه درلود... هندي رسنیو د هند بریاوې په لویه کچه وښودلې خو د پاکستان سیاسي مشرتابه سخته بې‌کفایتي څرګنده کړه او هېڅ ډول وړ او ملي کړنې یې ترسره نه کړې.[10]

لومړي وزیر نواز شریف د جولای په ۴مه نېټه د نړیوال فشار د زیاتېدو له امله د یاغیانو [د یاغیانو په جامه کې پاکستاني پوځیانو او کشمیري یاغیانو] له ملاتړه لاس واخیست. د نواز شریف دغې پرېکړې د پاکستان پوځ، په ځانګړي توګه د پوځ ستردرستیز جنرال مشرف په غوسه کړ او لړ وروسته د احتمالي کودتا ګنګوسې خپرې شوې.

---

[8]:https://www.nytimes.com/1999/10/13/world/coup-pakistan-man-soldier-s-soldier-not-political-general-pervez-musharraf.html

[9]: https://books.google.com/books?id=bt3WMTNX5QoC&pg=PA118

[10]: پرویز مشرف: در خط آتش: فارسي ژباړن: سید هارون یونسي. ۱۳۹مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

جنرال مشرف وايي:«رښتيا دا دي چې اصلاً [له هند سره] د سولې خبرې نه وې شوي چې نواز شريف پرته له کوم قيد او شرطه شاتګ ومانه چې د وضعيت بدلون پوځي حالت لا پسې کړکيچن کړ.[11]

مشرف زياتوي:«هندي لوري خپلې لاسته راوړنې ډېرې لوړې بللې... **خو په ډېر شرم سره بايد ووايم چې پاکستاني لوري، سياسي مشرتابه، داسې څرګنده کړه چې زموږ لاسته راوړنې له بې‌شرمۍ او بدنامۍ (افتضاح) سره پرتله کړې او ځينو بيا د پاکستان پوځ يو سپک او بې‌ارزښته (پست) پوځ وباله.**[12]

جنرال مشرف چې د کارګيل جګړې اصلي طراح او غوښتونکی و، دواړو هېوادونو، هند او پاکستان ته ډېر پوځي او سياسي زيانونه واوښتل. نوموړي جګړې شاوخوا دوه نيمې مياشتې دوام وکړ. د کارګيل جګړې څخه د پاکستان موخه دا وه چې د کشمير مسئله يو ځل بيا په نړۍ‌واله کچه راپورته شي خو دا موخه ناکامه شوه.
**په دغه جګړه کې د پاکستان ۴۵۳ تنه پوځيان ووژل شو او ۶۶۵ تنه ټپيان شول. خو نواز شريف په ۲۰۰۳ز. کال کې وويل چې له څلور زرو څخه ډېر پاکستاني پوځيان او اړونده [کشميريان] وژل شوي دي.** [13]

**سره له دې چې هند د کارګيل جګړه وګټله او خپلې سيمې يې له پاکستاني پوځيانو ونيولې خو په دغه جګړه کې د هند ۵۰۰ تنه سرتيري هم ووژل شول، شاوخوا ۱۳۰۰ تنه ټپيان شول. د جنرال مشرف په وينا «د پاکستان پوځ وکولی شول د هند، دوه جبهې الوتکې او يوه چورلکه د جګړې په سيمه کې راوغورځوي.»**[14]

پاکستان د نړۍ د لويو ځواکونو، (په ځانګړې توګه د امريکا) له لوري وغندل شو او په نړيواله کچه يوازې پاتې شو. د نړيوال فشار او د هند د سخت غبرګون له امله، پاکستاني ځواکونه اړ شول له نيول شويو سيمو څخه په شرمېدلې توګه ووځي چې په دې توګه **پاکستان د کارګيل په جګړه کې د پوځي او سياسي ستراتيژۍ له ماتې سره مخ شو.**

د کارګيل جګړه د پاکستان په ټولنيزو غونډو او رسنيو کې له پراخو نيوکو سره مخ شوه. مشرف له خپلو لوړپوړو افسرانو: د سمندري ځواک له مشر اډميرال/اميرالبحر(فصيح بخاري)؛ د هوايي ځواک مشر اېر چيف مارشل (پرويز مهدي قريشي) او ډګر جنرال (علي قلي خان) سره شخړې رامنځ ته کړې.[15]

**جنرال مشرف له خپل پخواني نږدې ملګري، د هوايي ځواک مشر مارشل پرويز مهدي سره هغه مهال ستونزه رامنځ ته شوه چې د هوايي ځواک قوماندان د کارګيل په سيمه کې د پوځ د عملياتو د ملاتړ لپاره د هر ډول هوايي بريد څخه ډډه وکړه. تر دې چې اميرالبحر فصيح بخاري د جنرال مشرف پر وړاندې د ګډې نظامي محکمې غوښتنه وکړه، په داسې حال کې چې جنرال علي قلي خان ادا جګړه د**

---

[11]: هماغه کتاب. ۱۴۱مخ
[12]: هماغه کتاب. ۱۴۳مخ
[13] https://timesofindia.indiatimes.com/world/pakistan/over-4000-pakistanis-killed-in-kargil-conflict-sharif/articleshow/133788.cms
[14]: پرويز مشرف: در خط آتش: فارسي ژباړن: سيد هارون يونسي. ۱۳۶مخ
[15]: http://www.dnaindia.com/report.asp?NewsID=1056536


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ختیځ پاکستان [بنګله‌دېش] له غمیزې هم لوی ناورین وباله، هغه زیاته کړه چې دا طرحه د تاکتیکي پلان جوړوني او پلي کولو له اړخه نیمګړې ؤ چې د دومره ډېرو سرتېرو د قرباني سبب شو.**[16]

له لومړي وزیر سره په وروستۍ لیدنه کې، جنرال مشرف د پوځ دننه، د پوځي استخباراتو (MI) د لوړپوړي مشر جنرال (جمشېد ګلزار کیاني) له سختو نیوکو سره مخ شو. هغه په غونډه کې وویل: «... هغه څه چې هلته لیکل شوي دي، د منطق خلاف دي، که ته خپل دښمن د ستوني له رګ څخه ونیسې نو هغه به په ټول ځواک غبرګون ښکاره کړي ... که د دښمن اکمالاتي لارې وتړې نو یوازینی لاره به دا وي چې هغوی خپل اکمالات د هوا له لارې ورسوي... دا د عقل خلاف ده چې ته دښمن ته ووایې چې جګړه دې یوازې په یوې ځانګړې جبهه کې محدوده کړې...»[17]

د کارګیل ناکامه جګړه چې د پاکستان لهخوا پیل شوې وه، لومړي وزیر نواز شریف د جګړې پړه پر جنرال مشرف وراړوله خو جنرال مشرف بیا د جګړې او د پاکستان د شاتګ اصلي مسئول نواز شریف باله. کله چې جګړه له ناکامۍ او بدنامۍ سره مخ شوه نو لومړي وزیر نواز شریف تور پورې کړ چې د کارګیل عملیات د ده له خبرتیا پرته پیل شوي وو خو هغه راپورونه چې نوموړي ته د کارګیل له عملیاتو مخکې او وروسته د پوځ له خوا ورکړل شوي وو څرګنده شوه چې د عملیاتو تر پیل مخکې، د جنورۍ او مارچ ترمنځ، نواز شریف ته په درو جلا غونډو کې د عملیاتو په اړه مالومات ورکړل شوي وو.

**حقیقت دا دی چې د کارګیل جګړې مسؤلیت، په لومړي ګام کې د جنرال مشرف پر غاړه دی او په دویم ګام کې لومړی وزیر نواز شریف مسؤل دی،** دا ناشوني ده چې د هېواد لومړي وزیر له داسې جګړې ناخبره وي چې یو هېواد پر بل هېواد برید کوي. هغه خبره ده چې وایي: **بریا ډېر پلرونه لري او ناکامي یتیمه وي.**

## کودتا ۱۹۹۹ز. کال د اکتوبر ۱۹مه

د کارګیل جګړه، که د پاکستان لپاره یوه شرموونکې ماتې وه خو د جنرال مشرف لپاره داسې شر ؤ چې د ده په خبر تمامه شوه، جنرال مشرف د همدغې جګړې د اختلاف له امله (چې له لومړي وزیر نواز شریف سره رامنځ ته شو) د پاکستان ولسمشرۍ ته د زور او کودتا له لارې ورسید، داسې چې نواز شریف هڅه کوله جنرال مشرف د پوځ له مشرۍ څخه ګوښه کړي، نواز شریف ته ویل شوي وو چې مشرف غواړي پوځي کودتا وکړي.[18]

لکه څرنګه چې په پاکستان کې پوځي کودتاګانې یو عادي کار دی، هغه مهال چې «جنرال پرویز مشرف د سریلانکا د پوځ د پنځوسمې کلیزې په مراسمو کې د ګډون لپاره تللی ؤ. نو دا مهال نواز شریف جنرال مشرف له خپلې دندې ګوښه او پر ځای جنرال خواجه ضیاءالدین د ستردرسیز په توګه وټاکل شو چې دا په دوو کلونو کې د نواز شریف لهخوا دویم د پوځ مشر ؤ چې له ټاکل شوې مودې وړاندې له دندې ګوښه کیده.

[16] https://www.rediff.com/news/report/mush/20061003.htm

[17]: https://web.archive.org/web/20080606010200/http:/www.geo.tv/6-3-2008/18848.htm

[18]: پرویز مشرف: در خط آتش: فارسي ژباړن: سید هارون یونسي. ۱۶۷مخ

دا مهال چې د ۱۹۹۹ز. کال د اکتوبر ۱۹مه نېټه وه او د جنرال مشرف د ګوښه کېدلو خبر د پاکستان له ټلویزیون څخه خپور شو، جنرال مشرف په هماغه ساعتونو کې د سریلانکا د کولمبو ښار څخه د راستنیدو په حال کې ؤ نو همهماله د لومړي وزیر په امر د هغه الوتکې ته اجازه ورنه کړل شوه چې د کراچۍ په نړیوال هوايي ډګر کې ښکته شي.[19]

هغه وو چې په غبرګون کې د راولپنډۍ د قول‌اردو قوماندانی په اسلام آباد کې د لومړي وزیر نواز شریف کور او نور مهم بنسټونه کلابند کړل او د کراچۍ هوايي ډګر کنټرول یې هم په خپل لاس کې واخیست.

جنرال مشرف د لومړي وزیر دغه عمل کودتا وبلله هغه لیکي چې «لومړي وزیر پر ما کودتا وکړه او زه یې د قانون خلاف له دندې ګوښه کړم.»[20]

د ده دغه اصطلاح چې د یو هېواد مشر پر تیټ‌پوړي او تر لاس لاندې کس باندې کودتا کوي، سمه نه ښکاري، دا ډول اصطلاح د افغانستان د وخت د دفاع وزیر، شهنواز تنې لهخوا هم کاریدله، هغه مهال چې ولسمشر ډاکټر نجیب الله د شهنوار تنې د کودتا د مخنیوي پر وړاندې عملیات پیل کړل او شهنواز تنی، وړاندې له هغې چې کودتا وکړي، پاکستان ته وتښتید نو شهنواز د خپلې پوهې له مخې په هر ځای کې ویل چې نجیب پر ما کودتا وکړه. حال دا چې په نړۍ کې د ټیټ‌پوړو کسانو، پوځ او یا کومې ځانګړې ډلې لهخوا د هېواد د واکمن پر وړاندې د زور له لارې ناڅاپي او وسله‌والو عملیاتو ته کودتا وايي. په دې بنسټ ویلی شو چې جنرال مشرف د منتخب لومړي وزیر نواز شریف پر وړاندې پوځې کودتا وکړه او هغه یې له واکه ګوښه کړه.

جنرال مشرف د خپلې کودتا په اړه اوږد جریان لیکلی چې موږ یې په لنډو ځینې اړینې برخې را اخلو:«... کله چې مازدیګر ۵ بجې زما د ګوښه کیدو خبر له ټلویزیون څخه خپور شو نو له دریېنیمو ساعتونو یې ډېر دوام ونه کړ چې **د راولپنډۍ د قول اردو قوماندان ډګرجنرال محمود احمد ځواکونه د لومړي وزیر کور ته ننوتل او نواز شریف یې ونیو او د کودتا ضد عملیات پای ته ورسیدل.»**[21]

د مشرف پلوي پوځیان د لومړي وزیر نواز شریف کور ته ننوتل لومړی وزیر او د هغه ملګري یې ونیول خو د نواز شریف ورور شهباز شریف (چې اوس مهال د پاکستان لومړی وزیر دی) ونه لیدل شو، مشرف لیکي چې « شهباز شریف، د کور په هېڅ ځای کې ونه موندل شو نو ډګرمن شاهدعلي ته وویل شول چې **شهباز شریف په حمام [تشناب] کې دی**، نوموړي ډګرمن شهباز شریف ته وویل: بهر راووځه. شهباز د شاهدعلي د غږ په اوریدو خبر ورکړ [چې ګواکې د تشناب کولو په حال کې دی.] خو شهباز ډېر ځنډ کړ، هغه وو چې شاهدعلي د حمام دروازه په زوره پرانستله، شاهدعلي ولیدل چې شهباز له کموډ سره نږدې ولاړ دی او د نواز شریف د وینا هغه متن چې د کودتا [د نوازشریف] له بري وروسته یې باید لوستلي وای، په کموډ کې د ننه ایستلو کوښښ کاوه خو شهباز له حمام څخه رابهر کړای شو.[22]

---

[19]: هماغه کتاب. ۱۵۲مخ
[20]: پرویز مشرف: در خط آتش: فارسي ژباړن: سید هارون یونسي. ۱۶۵مخ
[21]: هماغه کتاب ۱۸۲مخ
[22]: هماغه کتاب. ۱۰۵مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

مشرف ليکي چي «دا په تاريخ کې لومړنۍ پېښه وه چې په هوا کې يوه الوتکه د داسي کس لهخوا تښتول کيږي چي پر ځمکه ناست ؤ، داسي يو کس چي د هېواد لومړي وزير ؤ چي د خپلو خلکو د ساتلو لوړه کې يې کړي وه.»[23]

جنرال مشرف د حکومت اجراييوي واکونه په خپل لاس کې واخيستل خو د لومړي وزير څوکی يې خپله نه کړه. د پاکستان د لومړي وزير دفتر، د پوځي پوليسو له خوا ونړل شو او کارکوونکي يې د مشرف له خوا گوښه کړای شول.

نواز شريف په کورني بند کې ساتل کيده او وروسته د خپلې غوښتنې او يوې موافقې له مخې سعودي عربستان ته تبعيد کړای شو.



نواز شريف د پاکستان پخوانی لومړی وزير چې په يوه وينا کې يې د پاکستان پارلمان ته، په ډېر وياړ سره وويل چې ما د افغانستان ملي اردو دړې وړې کړه. هغه څوک چې له برهان‌الدين رباني سره يې تړون لاسليک کړ چې د افغانستان د پوځ ټولې وسلې او مهمات به پاکستان ته انتقال کيږي.

نېټه:۱۴۰۵/۳/۳ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري ليکني په دی لينک کې ولولی.

---

[23]: هماغه کتاب. ۱۵۷مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ